# دروغجن شپون( لیوه راغلی, لیوه راغلی )

و نه و یوه ماشوم د خپلو کلیوالو شپون و، هغه ډېر شوخ و، د خلکو په عذابېدل به یې ډېر خوښول،
هرکله به چې تنګ شو کلیوالو ته به یې نارې کړې:

` «راځي چې لیوه راغلی او ستاسو پسونه خوري»



*Gjeter med sauer. Foto: pixabay.com*

.کلیوالو به په وارخطایی سره تبرونه او نور څه له ځان سره اخستل او د ده لور ته به روان شول.
کله به چې کلیوالو په منډه منډه ځان ده ته راورساوه، کټل به یې چې دی هلته ناست دی او خوله یې له خندا ډکه ده، کلیوال به له قهره بېرته تاو شول او خپلو کارونو پسې به تلل، دوه ځلې نوموړي شپون له خلکو سره دا ټوکه وکړه او ځان یې پکې دروغجن معرفي کړ.

مګر په ژمي کې ناوخته یو څه پېښ شوي.

اوووووووووووووو.............

په دریېم ځلي، په رښتیا لیوه راغی، ده کلیوالو ته ډېرې نارې وکړې خو څرنګه چې دی کلیوالو ته دروغجن معرفي شوی و، هغوی فکر کاوه چې دا ځل هم دی له موږ سره ټوکې کوي، خو داځل داسې نه وه، لېوه راغی او پسونه یې وخوړل.
کله چې ماښام کلیوال د شپون په لټه راووتل ګوري چې پسونه لیوه خوړلي، خلکو له ځان سره ویلې چې دا زموږ ګناه نه ستا خپله د دروغو پایله ده.

اخلاق: هېڅ څوک په دروغجن سړي باور نه لري.

## Kilde:

https://www.youtube.com/watch?v=ExCuQJCZ62A